# که تاسو حامله يې نو د ۴ مې برخې ملاتړ لپاره څنګه غوښتنه وکړئ

scottish refugee council

اکتوبر ۲۰۱۰

Pashto

که ستاسو غوښتنه د پنا لپاره رد شوي وي، او ستاسو د تحقيق غوښتنه هم ناکامه وي، نو د ۴ مې برخې ملاتړ د مرکزي دفتر له خوا لنډې مودې لپاره چمتو شوی. که تاسو ژر د انګلستان پريښودلو وړتيا نه لرئ او په بله بيا بې کوره يا د خوړو اخيستلو لپاره پيسې نه لرئ (يعني چې تاسو نياز لرونکی يې)، نو تاسو د ۴مې برخې ملاتړ لپاره د انتخاب وړ يې که تاسو حامله يې.

په هر ترتيب، د حامله توب پر بنسټ د ۴مې برخې ملاتړ غوښتنې لپاره، مرکزي دفتر له تاسو څخه **تولو** لاندې اسنادو ورکړه غواړي. کله چې تاسو ټول لاندېني مالومات راټول کړل نو په سکاټش رفيوجي کونسل کې زموږ دفتر ته راشئ او موږ به تاسو لپاره د ۴مې برخې ملاتړ ناسته جوړه کړو.

**ستاسو اړ اسنادو کې شامل دي:**

۱. له ستاسو ډاکټر(GP) څخه د MATB1 يو تصديق **يا** قابله چې وښيي تاسو لږترلږه د ۳۲ اونيو حامله يې. که تاسو تر اوسه قابلې نه يې ليدلې، موږ کولای شو تاسو لپاره يوه ناسته ونيسو؛

۲. ستاسو د ټولو ادروسنو لست، له کله نه چې انګلستان ته راغلي يې او تاسو په کې ژوند کړی وي. لست بايد تاريخي ترتيب ولري، له فعلي ادرس نه نيولې تر لومړي ادرس پورې چې تاسو انګلستان کې اوسيدلي يې. د هغو خلکو نومونو په شموليت چې تاسو ورسره پاتې شوي وی وي او، که امکان ولري، له هغوې څخه ليکونه چې ښيي تاسو هغوې سره اوسيدلي يې او ولې دوې نه شي کولای ستاسو لا نور ملاتړ وکړي. دا په ځانګړي ستاسو د غوښتنې نه مخکينې کال لپاره ضروري دی. که تاسو وکړی شئ ستاسو دې آدرسونو ته ليږدول شوي ليکونه چمتو کړئ، دا به ستاسو د ۴مې برخې غوښتنې سره مرسته وکړي؛

Scottish Refugee Council, 5 Cadogan Square, (170 Blythswood Court), Glasgow G2 7PH Tel: 0141 248 9799, Fax: 0141 243 2499,
www.scottishrefugeecouncil.org.uk
Scottish Refugee Council is a charity registered in Scotland.
Registered Charity: SC008639

۳. له کله نه چې تاسو انګلستان ته رارسيدلي يې، د ټولو هغه ځايونو لست چې تاسو په کې کار کړی دی، د پرداخت يادداشتونو او P45 فارمنو په شمول، که لرئ چمتو يې کړې. که تاسو په انګلستان کې غير قانوني دنده سرته رسولي وي، دا به ستاسو د ۴مې برخې په غوښتنې کوم منفي اغيزه ونه لري؛

۴. ستاسو د بانکي حساب توضيحات چې په انګلستان کې مو درلوده، د تيرو شپږو مياشتو لپاره د بانک اعلامې په شمول؛ **او**

۵. که تاسو تر اوسه هم د خپلو ماشومانو پلار سره په تماس کې يې، تاسو به د ادرسونو چمتو کولو ته اړ اوسئ، د هغې څخه د دندې توضيحات او د بانک اعلاميه، ليکلې اغلاميه چې ښيې هغه ولې ستاسو او د ستاسو ماشومانو ملاتړ نه شي کولای.

**ضروري:** تاسو بايد ليک په انګليسي چمتو کړې. په هر ترتيب، که ستاسو د ليک چمتو کونکی په انګليسي ليکل نه شي کولای، موږ تاسو ته وړانديز کو چې هغه زموږ سره د ستاسو ناستې لپاره راوړئ نو موږ کولای شو د هغې سره ستاسو په ليک ليکلو کې مرسته وکړو.
په ليک کې د ادرسونو او د دندو ځايونو لستونه کولای شی په خپله ژبه وليکئ که تاسو هغه په انګليسي نه شئ ليکلی.

Scottish Refugee Council, 5 Cadogan Square, (170 Blythswood Court), Glasgow G2 7PH Tel: 0141 248 9799, Fax: 0141 243 2499,
www.scottishrefugeecouncil.org.uk
Scottish Refugee Council is a charity registered in Scotland.
Registered Charity: SC008639